NDI
NATIONAL
DEMOCRATIC
INSTITUTE

**د ژر تر ژره خپرولو لپاره**
٢٠١٣ زیږدیز کال، ډسمبر میاشتې ٩ امه
د لازیاتو مالوماتو لپاره، په لاندې پته اړیکه ونیسئ:


کیټي ګیسټ، واشنګټن، kgest@ndi.org+202-728-5535
انس زُورفر، کابل، azwerver@ndi.org+93 (0)796073459


## له جدي ننګوونو سره سره د ملي ډیموکراټیک انسټیټیوټ د ارزونې پلاوې په افغانستان کې د ٢٠١٤ زیږدیز کال ټاکنو په برخه کې له پاملرنې سره مل هیله او خوشبیني ومونده!

کابل – د هغه پلاوي د موندنو پر بنسټ کوم چې د ملي ډیموکراټیک انسټیټیوټ لخوا استول شوی وه، په افغانستان کې له درغلیو سره مل د ٢٠٠٩ او ٢٠١٠ کلنو ټاکنو څخه راپدیخوا مهم اصلاحات رامنځته شوي دي کوم سیاسي او مدني مشرانو او رهبرانو ترمنځ د راتلونکو ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو د غوره ټاکنو لپاره له پاملرنې او احتیاط سره مل هیلې او خوشبینی لامل ګرځیدلي دي.

د پلاوي په وینا " د ٢٠١٤ زیږدیز کال، اپریل میاشتې ټاکنو په ترڅ کې به د هیواد په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره په سوله ایزه توګه د واک لیږد ترسره شي". " دا ټاکنې به د افغانستان په سیاسي لیږد کې یو ډیر مهم پړاوو وي..... که چیری راتلونکې ټاکنې د افغانانو په پراخه کچه اند عمومي او رښې وي، نو کیدای شي په افغانستان کې د ټیکاو او ډیموکراسی په پرمختګ کې بنسټیزه ونډه ولوبوي"

د ١٣٩٣ لمریز کال ټاکنو لپاره د نوي قانوني چوکاټ او عملیاتي جوړښت په ګډون، د تیرو ټاکنو څخه راپدیخوا بدلونونه رامنځته شوي دي. د پام وړ اصلاحاتو له ډلې څخه یو هم له ټاکنو څخه د څارنې بنسټونو لپاره د نوماندو په غوراوي کې د افغانستان د پارلمان د غړو او مدني ټولنې د استازو ونډه وه، چې د پلاوي په وینا " په هغه لړۍ کې چې په تیرو وختونو کې به د ولسمشر لخوا اداره کیده، یو د پام وړ پرمختګ بلل کیږي."

خو د پلاوې څرګندوونې دا په ګوته کوي چې یو لړ جدې ننګوونې شتون لري چې کیدای شي د ټاکنو بشپړتیا اغیزمنه کړي. اړوندې ننګوونې عبارت دي له : امنیت چې کیدای شي نوماندي او سیاسي ډلې د هیواد په ځانګړو برخو کې له کمپاین کولو او همدارنګه رأیه ورکوونکي له رأیه ورکولو څخه په شاه کړي، د تیرو تجربو په بنسټ د درغلیو د ترسره کیدو احتمال، په ژمې کې د ټاکنو د کارکوونکو په ځانګړې توګه د ښځینه کارکوونکو ګمارنه او روزنه، د دولت نه بیطرفي، د دولتي سرچینو او امکاناتو څخه د ناوړه ګټې اخیستنې شونتیا، د کورنیو او بهرنیو لاسوهنې څخه د نوماندو هیره او ډار.

" دې پلاوي څرګنده کړه، دا ټاکنې به څرګنده او په ګوته کړي چې هیواد به په راتلونکو کلنو کې کوم لوري ته روان شي." دا ډیره اړینه ده چې د راتلونکي دولت مشروعیت د باور وړ یوې ټاکنیزې لړۍ په پایله کې رامنځته شوی وي. خو په ژوره توګه نیمګړي ټاکنې کیدای شي سیاسي ناخوالې لا زیاتې او په جدي توګه د امنیت، ملي پخلاینې او اقتصاد پر وړاندې د پرتو ننګوونو د هواري په برخه کې د نوې دولت وړتیا زیانمنه کړي."

د دې پلاوي غړي ښاغلی سفیر کارل انډرفورټ ( د امریکا له متحده ایالاتو څخه) چې نوموړی د سویلي آسیا په چارو کې د امریکا متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزارت مرستیال او همدارنګه د ملګرو ملتونو په سازمان کې د ځانګړو سیاسي چارو په برخه کې د متحده ایالاتو ستازی پاتې شوی دی. آغلې انډري مکلافلین ( له کاناډا هیواد څخه) چې نوموړې د کاناډا په پارلمان کې د فدرال پخوانۍ غړې او همدارنګه د کاناډا هیواد نوي ډیموکراټ ګوند پخوانۍ مشره ده. ښاغلی دماسو ماګبول ( له فلیپین هیواد څخه) چې نوموړی د خپلواکو او آزادو ټاکنو لپاره د آسیایي شبکې (ANFREL) د مدیره هیأت رئیس او همدارنګه په فلیپین کې د خپلواکو او آزادو ټاکنو لپاره د خلکو خوځښت د اجرائیه کمیټې غړی پاتې شوی دی او ښاغلی پیټر مانیکاس ( د امریکا له متحده ایالاتو څخه) چې نوموړی د آسیا لپاره د ملي ډیموکراټیک انسټیټیوټ رئیس دی.

دې پلاوي د ۲۰۱۳ زیږدیز کال د ډسمبر میاشتې له ۳ څخه ۹ نیټې پورې فعالیت درلود او په افغانستان کې یې سیاسي چاپیریال، د راتلونکو ټاکنو لپاره قانوني چوکاټ او هغه فکټورونه وارزول کوم چې کیدای شي د ټاکنو د لړۍ بشپړتیا اغیزمنه کړي. د پلاوي غړو له ولسمشر حامد کرزي، یوولسو تنو ولسمشریزو/ مرستیالو ولسمشریزو نوماندو، ولایتي شوراګانو له نوماندو، ټاکنو له چارواکو، دولتي او امنیتي چارواکو، رسنیو له استازو، مدني ټولنې، ښځینه فعالینو، د ځوانانو له مشرانو او نړیوالو ادارو سره لیده کاته درلودل.
ملي ډیموکراټیک انسټیټیوټ یو لړ وړاندیزونه چې موخه یې د عمومي، رښو او باور وړ ټاکنې دي، وړاندې کړل. اړوند وړاندیزونه د ټاکنو خپلواک کمیسیون او همدارنګه ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون د فعالیتونو په اړه د عامه پوهاوي پروګرامونه، د درغلیو پر وړاندې د مبارزې په اړه د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د ټګلارو په اړه د خلکو خبراوی او د کورنیو چارو وزارت لخوا د ټاکنو لپاره د ترتیب شوي امنیتي پلانونه، نه لاسوهنه او د دولت بیطرفي، د دوهم ځل ټاکنو لپاره د کړنلارو رامنځته کول او د واک د لیږد او سپارلو لپاره پلان رانغاړي.

همدارنګه پلاوي د ټاکنو دې تنظیموونکو ادارو لخوا د ټاکنو خپلواک کمیسیون د کارکوونکو د ګمارنې او ټاکنې لپاره د یو شان معیارونو، د ولایت په کچه د ټاکنو خپلواک کمیسیون سره د مدنې ټولنې، رسنیو او سیاسي ګوندونو د خبرو اترو په لاره اچولو، د ښځو د حقونو خوندیتوب ترڅو د ټاکنو په لړۍ کې برخه واخلي او همدارنګه د یو لړ اقداماتو ترلاسه لاندې نیولو سپارښتنه وکړه کوم چې له ټاکنو څخه څارنه ډاډمنوي.
ملي ډیموکراټیک انسټیټیوټ یوه بیطرفه او غیر انتفاعي اداره ده چې د خلکو د ګډون، روڼتیا او دولت کې د حساب ورکوونې له لارې د نړۍ په کچه د ډیموکراټیکو بنسټونو د ملاتړ او پیاوړتیا په برخه کې کار کوي. دا انسټیټیوټ د ۲۰۰۲ زیږدیز کال څخه راپدیخوا په افغانستان کې د سیاسي پرمختګ او ټاکنیز ملاتړ په برخه کې پروګرامونه په لاره اچووي. له ټاکنو څخه دمخه د ارزونې دا ماموریت د امریکا متحده ایالاتو نړیوالي پراختیایي ادارې په مالي مرسته په لاره اچول دی.

###